Afghanistan Chamber of Commerce & Industries
اتاق تجارت و صنایع افغانستان
د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو اتاق

Center for International Private Enterprise
د نړیوالو خصوصي متشبثینو لپاره مرکز

National Center for Policy Research
د پالیسی د څېړنو ملي مرکز

---

## مطبوعاتي خبرپاڼه

# د ولایتي تشبثاتي اجنډاګانو د سپارښتونو په رڼا کې د سوداګرۍ او خدمتونو په وړاندې کولو کې اسانتیاوپګردی میز تر سره شوه

**نېټه:** د سه شنبي ورځ، د مرغومی د میاشتې ۷ مه، د سهار ۹ بجې
**پته:** پامیر سالون، انتر کانتیننټال هوټل، کابل، افغانستان

دغه ګردي میز د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو خونې (ACCI)، د نړیوالو خصوصي متشبثینو لپاره مرکز(CIPE) او د کابل پوهنتون د ملي تحقیقاتو او پالیسو مرکز لخوا په انترکانتیننټال هوټل کې د لوړ پوړو دولتي چارواکو،د پارلمان غړو، د پوهنتون استادانو، سوداګرو، د خصوصی سکتور استازو، د مدني ټولنېغړو او د داخلي او نړیوالو رسنیو په حضور تر سره شوه.

ګډونوال په دې باور و، چې په بندرونو، لویو لارو او ښارونو کې د مهمواسانتیاوو رامنځته کول په هېواد کې سوداګریز چارې پراخوي او همدارنګه سوداګر هڅویځو با کیفیته اموال او خوراکي توکي هېواد ته وارد او کورني تولیدات نړیوالو بازارونو ته صادر کړي. په دې سره به په کافی اندازه پانګه هېواد ته  ببرته راشي. د خدمتونو د وړاندې کولو پر وړاندې د خنډونولرې کول، پانګونه پیاوړي کوي، د کاري فرصتونو د رامنځته کېدو لپاره لاره هواروي او دهېواد د اقتصادي ودې لپاره هم ډېر موثر تمامېږي.

ګډون کوونکو پر مختلفو موضوعات بحثونه وکړل او له حکومت څخه یې وغوښتل، ترڅو د ولایتي تشبثاتي اجنډاګانو د سپارښتونو په رڼا کې د سوداګرۍ او خدمتونو په وړاندې کولو کې اسانتیاوې رامنځته او پلي کړي.

د ولایتي تشبثاتي اجنډاګانو د سپارښتونو په رڼا کې چې د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو خونې،د نړیوالو خصوصي متشبثینو لپاره مرکز(CIPE)، د کابل پوهنتون د ملي تحقیقاتو او پالیسو مرکز اود خصوصي سکټور  د ځینو غړو په مرسته جوړه شوي وه، یو شمېر هغه خنډونه چې سوداګر، کسبګر او تولیدونکي ورسره مخ دي، روښانه او د حل لپاره یې لازم لارې چارې وړاندې شوې. ددغو موندنو په عملي کېدو سره به د سوداګرۍ پر وړاندې خنډونه لرې او د اقتصادي پرمختګ ته به لاره هواره شي.

د دې ګردي میز پایلي به دګزارش په شکل اړوندو دولتي ادارو، خصوصي سکټور، مدني ټولنو، تمویلونکي ادارو، سوداګریزو اتحادیو او رسنیو سره شریکېښي. سربیره پر دې، د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو خونه،د سایپ اداره، او د کابل پوهنتون د پالیسي او ملي تحقیقاتو مرکز په ګډه به هڅهکویترڅو د سپارښتونو د تطبیق څخه څارنه او د کار وبار د مناسب چاپیریال د رامنځته  کېدو او د ولایتی تشبثاتي آجنډاګانو د سپارښتونو په مطابق د کورنیو تولیداتو د پرمختګ لپاره لاره هواره کړي.